# پر پښتو نثر د عربۍ ژبي اثرات(د تاريخي دورونو په رڼا کښې)

**The Impact of Arabic Prose on Pashto Prose in the light of historical periods**

حبيب نواز خان*
مس فرخنده جبين•
جنت ګل ګل♥

**Abstract:**

Arabic is an oldest language of the world. it belongs to Sami Group. Approximately 422 millions people of the world speak Arabic as a native language. Arabic is the official language of Arab countries and a common language of the Islamic countries. It is the language of religion, science, politics, business and economics.A lot of books have been written in this language and it is biggest evidence that this language is reasonable for the promotion of the common sense of the human being. Arabic is a vast language and it plays an important role in the unity of the Muslim countries .Quran and hadith are available in this language in original shape. Which is valuable for all the Muslims of the world .and that is the main reason that Arabic language and literature have great impacts on Pashto language and literature. For Example.

(1) Alphabet: 30 alphabets of Arabic language are included in Pashto alphabets.(2) Grammar: Grammar of the two languages has great similarity. Mostly rules and regulations of the Grammar are same in both languages.(3) spoken or routine languages: A lot of Arabic words are used in daily speaking of Pashto language. For example. Istimal,saber,Ihsan,shukur,Shefa,Maraz etc.(4) Culture: Arab and Pashtoon are Muslim and both of the nations have a great similarity in their culture, therefore most of the cultural words are same for example,izat,Ihtiram,walima,Haq Mehr, Tuagham,Haram,Halal,Riziq etc.(5)Literature: style and thoughts in the field of literature of the both languages are same to a large extant.

**Keywords:** Arabic Prose, Pashto Prose, Impacts, Quran and hadith,

عربي ژبه د زرګونو کلونو اوږد لري چي د لويو خصوصياتو نه ډکه ده.د دي لوی دليل دا دي چي لوي ښښتن دا ژبه د خپل دين (اسلام) د پاره خوښه او غوره کړه او خپل کتاب (قرآن پاك) يي پکښې نازل کړو او د قرآن پاك د حفاظت يي په خپله ذمه واخسته (چي د عربۍ ژبي د تحفظ ذريعه وګرځيده) او وئي فرمائيل.

* Head of Deptt, Pakistani Languages and culture, NUML Islamabad.
• Lecturer, Pakistani Languages and culture, NUML Islamabad.
♥ Visiting Lecturer (Pashto), Pakistani languages and culture, NUML Islamabad.

"انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون"۔(1)

**ژباړه**: مونږ قرآن پاك نازل کړو او مونږ به يې حفاظت کوؤ۔

نن ګورو چې څوارلس سوه کاله پس هم د قرآن پاك الفاظ معاني او د ژبې هر اړخ يې محفوظ دي د مخالفينو هر قسم مخالفت او د خوارۍ باوجود هيڅ قسم کمي او کمزوري پکښې رانغله۔ هم دا د عربۍ ژبې حفاظت او اهميت څرګندوني او که دا مهمه ژبه په پښتو ژبه اثر کوي نو د پښتو ژبې اهميت ,پراختيا او علويت يو په سل ري زياتيږي۔

پښتو ژبه په يو لوئي تاريخي قدامت لري چې څو زره کاله ته رسي دا ژبه هم د نړۍ نورو ژبو په شان د ډيرو مرحلو او سلسلو نه تيرا شوي ده چې پخپله سينه کښې يو لويې کلتور او ادب لري که لغوي اعتبار سره وره وګورې نو د نورو لويو ژبو پشان يو لويې لساني وجود لري۔ د آوازو او قواعدو پراخه ميدان لري او که په ادبي اعتبار سره يې تلنه وکړې نو ه شعر او نثر دواړو کښې د نړۍ د لويو ژبو او ادب سره سيالي کوي۔ په دا ټولو اړخونو کښې عربي د پښتو کښه او ښکلا جوړه شوي ده۔

د عربۍ نثر هم يو اوږد تاريخ لري (چې په پښتو نثر ډير اثرات لري) عربي نثر د اسلام دنه مخکښې د جاهليت په دور کښې هم وجود لرلو خو دا فني نثر نه ؤ۔ د اسلام راتللو نه پس عربي نثر وده ومونده ځکه چې قرآن په عربي نثر کښې نازل شو او بيا وحي او احاديث پکښې وړاندي شول او د نورو هيودونو بادشاهانو ته چيټۍ (خطونه) پکښې وليږلي شول او دحضورؐ او د نورو اکابرينو خطبې او تقارير پکښې وشول چې وروستو په ادبي نثر کښې وليکل شول۔ خلفائې راشيدين خپلو اعمال او د صوبو ګورنرانو ته خطونه وليږل , علمائې د اياتونو تفاسير او محدثينو ادحادثت په ښه ډول سره په نثري ژبه کښې وليکل په اموي دور کښې هم نثر په مخ وړاندي روان وو۔ خطبې او خطونه پکښې ليکل شول په دي دور کښې د نثر په نظر وده کښې کابت عبدالحميد ابن يحيٰي اهم کردار ولوبولو۔ په اموي دور کښې د نثر موضوعات نوره پراختيا ومونده او ځني نثر کمال ته ورسيده۔ د دي نه پس مختلف دورونو کښې عربي نثر په ډير آب و تاب سره مخ په وړاندي روان وو۔ عرب هندوستان ته سره د علم و ادب راغللو۔ د پښتنو هم عربو سره واسطه پاتي شوه او په پښتو نثر کښې د عربۍ نثر الفاظ او تراکيب داخل شول او د پښتو ځاني جوړ شول۔

د فني نثر تاريخ په څلورو دورونو تقيسم دي۔

"د پښتو د نثر تاريخ دري نيم زره کاله پخواني دي"۔(2)

(1) وړومبي دور(د ابو محمد هاشم نه تر بايزيد انصاري)

(2) دويم دور (بايزيد انصاري نه تر خوشحال خان خټك)

(3) دريم دور (خوشحال خان خټك نه تر مولوي احمد)

(4) څلورم جديد دور د مولوي احمد نه تر اوسه

**د پښتو نثر وړومبي دور:**

"د دي دور په پیل کښي د پښتو نثر اثار وجود د پښتو د شاعرۍ فنیت او ارتقاء د مطالعې نه ثابتیږي خو اوس یي آثار ناپید دي خو بیا هم د ابو محمد هاشم (225ھ ---297ھ) "سالو وږمه" د دي دور وړومبۍ کتابي نسخه ګڼلي کیږي- چي د ابن خلاد د عربۍ شاعرۍ په پښتو کښي ترجمه پکښي شوې ده د عربۍ ګڼ الفاظ پکښي راوړلي شوي وو"-(3)

"شپږمه هجرۍ کښي سلیمان ماکو د "تذکره اولیاء" په نامه کتاب لیکلې دي چي پکښي بې د اولیاؤ او ادیبانو احوال, خبرې او شعرونه راغونډ کړي وو , خو دا کتاب هم ناپید دي"-(4)

په دا کتاب کښي هم د عربۍ ډیر الفاظ او تراکیب استعمال شوي دي-

دوئي وائي چي:

"د پښتونخوا په راغو او کلیو ګرځیدم او مرقد او اولیاؤ او واصلینو چي پلټل او په هر لوي مي کاملان موندل او د دوئي په خدمت کښ خاکپائي وم او هر کله په سلام ورته ولاړ چي له دوي سفره په کور کیښناستم ----- چي احوال د هغوئي کاملانو وکاږي-(5)

په دي څو فقرو کښي د عربۍ نهه (9) الفاظ استعمال شوي دي-

لکه مرقد , اولیاء واصلین, سلام, خدمت, سفر, احوال, کاملان, د دي نه معلومیږي چي د سلیمان ماکو په نثر د عربۍ ژبي درون آثر شوي دي- ځکه چي په دي دور کښي عربي د پښتو علمي او تدریسي ژبه وه-

"محمد البستي" تاریخ سوري" نومي کتاب کښي لیکلی دي خو اوس نشته –دي کښي یي د سوري بادشاهانو د ژوند حالات, واقعات او د شاعرانو د ژوند حالات او اشعار جمع کړي وو"-(6)

د دي دور د مطالعي نه او د سوري شاعرنوا د کلام نه معلومیږي چي په دي کتاب کښي هم د عربۍ ډیر الفاظ , تراکیب او شعري محاسن وړاندي شوي وو-

د دي دور یو بل نثر نګار شیخ کټه چي د-

"لرغونی پښتانه " په نامه یي کتاب لیکلی دي په دي کتاب کښي یي د پښتنو شاعرانو د ژوند حالات , شعر و ادب او د نورو مشهورو خلقو د ژوند حالات لیکلي وو- شیخ کټه یو مشهور مؤرخ او عالم سړي وو چي د پښتو نثر پنګه یي په یوه ستره تاریخي فنپاري درنه کړې وه"-(7)

د رضا صاحب دا پاسه آخري دوو جملو او د کتاب "لرغوني پښتانه" د موضوعاتو نه ښکاره معلومیږي چي د شیخ کټه نثر د عربۍ ژبي د آثر نه خالي نه وو-

د دي نه پس که مونږ وګورو نو دا احمد سعيد لودهي، شيخ ملي، کجوخان او داسي نورو نثر نګارانو په خپل نثر کښي د عربۍ ګڼ ټکي او اصطلاحات استعمال کړي دي چي د پښتو نثر پري ښکلي شوي دي که مونږ د دي دور مجموعي نثر ته نظر وکړو نو ښکاره معلوميږي چي عربۍ د دي دور د پښتنو يو ديني , علمي او درسي ژبه وه ـ زياتره ليکوالو د عربۍ ژبي نه خبر وو نو ځکه د دويي په ليك کښي د عربۍ ژبي اثر زيات وو۔

**د پښتو نثر دويم دور او د عربۍ اثرات** :

(931ھ---1100ھ)

دا دور د بايزيد انصاري (931ھ ---980ھ) او اخوند درويزه بابا (940ھ –1048ھ) وو۔ دا دواړه علماء وو خو دواړو په ديني مسئلو او نظريو کښي اختلاف لرلو او تل به د يو بل په مخالفت کښي لګيا وو۔ د دوي دغه اختلاف دوه نوي ادبي مکتبونه پيدا کړل چي د يو بل په ردعمل کښي يي لويي شعري او نثري آثار پيدا کړل چي د پښتو ادب شعر او نثر دواړو اړخونو پري دومره وده وکړه چي د ادب لمن يي د ملغلرونو نه ډکه کړه۔

په دي دور کښي پښتو نثر کښي د دواړو مکتبونو ليکوالو ډير کتابونه وليکل چي پکښي د عربۍ ژبي درون اثرات داخل شول ځکه چي په دي وخت عربي هر عالم ته ورتلله نو په خپل پښتو نثر کښي ئي د عربۍ ډير الفاظ او تراکيب داخل کړل او دغه رنګه يي د پښتو د نثر ګلستان پري نور هم رنګين کړو۔

بايزيد انصاري المعروف پير روښان ګڼ علمي او ادبي اثار وليکل چي پکښي د نثر او په ھغه د عربۍ آثرات واضح وو ځکه چي دويي د عربۍ ژبي ښه عالم وو۔ د دويي په پښتو نثر کښي د عربۍ الفاظ او تراکيب ډير زيات راوړلي شوي وو۔

"بايزيد انصار د پښتو د رسم الخط موجد ګڼلي کيږي ـ دوي د پښتو په نثر کښي خاص د پښتو توري ګډی کړی لکه ټ، ځ، څ، ډ، ړ، ژ، ږ، ښ، ڼ"۔(8)

او نور يي ھغه د اول نه موجودي د عربۍ توري غوره کړي او د پښتو رسم الخط يي ځاني وګرځولی لکه:

ا, ب, پ,ت ,ث,ج, ح, خ,چ, د, ذ, ر, ز, ع, غ, ف ك ق, ل , م , ن, و ھ, ء, ي۔

"بايزيد انصاري نور ډير اثار ليکلي دي چي پکښي د عربۍ اثرات ښکاره دي لکه مقصودالمومنين, صراط التوحيد, حالنامه, فخرالطالبين, خيرالبيان"۔(9)

بايزيد انصاري په خپل نثر کښي ځائ په ځائ عربي ليکلي ده ,آياتونه , احاديث او عربي مقولات يي د استدلال دپاره رانقل کړي دي چي خپلي خبري ته ئي دليل وګرځوي۔

د بایزید په پښتو نثر کښې ځنیې داسې جملې هم شته چې د عربۍ هو بهٔ هو ترجمه ښکاري. کله یې د آیاتونو ترجمه په پښتو کښې کړې ده او کله ئې نور عربي اقوال په پښتو راوړي دي.- ولې د عربۍ د اصل ذکر یې په ځینو ځایونو کښې بیخي پریښودي دي. لکه دا پښتو (وګورۍ)

"زه هٔغه بې پروا یم چې چا تل بې شریکه , بې مله بې کلي کړم. نشته دِ ما پلار , ځامن , نه ور ---- (دا) د سورة الاخلاص ترجمه وه".(10)

دغه رنګه چې چرته مونږ ګورو نو د بایزید انصاري په نثر د عربۍ د تراکیبو آثر هم ښکاره دي او کله کله د پښتو ساده جملو د دغو ژبو په ترکیب داسې ولیکي چې د پښتو ژبې د عامي محاورې نه وځي لکه:

په مینځ د حرفو د قرآن
بل په نه کیښوزي د ما په غذاب کښې ادمیان
هم ولې مشغول ډیر آدمیان
د پښتو په محاوره دا نثرداسې سمیدی شي.
د قرآن د حرونو په مینځ کښې
د بل به د ما په غذاب آدمیان نه کیښوزي
ډیر آدمیان پرې مشغول دي.(11)

که غور وکړو نو دا پاس تراکیب د عربۍ دي لکه (۱) بین حروف القرآن, (۲) لا یقع في غذابي الناس الاخري, (۳) المشغولین به کثیر من الناس.

"دغه رنګه که د پیر روښان " خیر البیان" وګوري نو په څلورو ژبو لیکلی شوي دي , پښتو, عربي, هندکو او فارسي, دا د پښتو نثر یوه غوره ذخیره ده".(12)

"د دې کتاب په میځ کښې ځاځ په ځاځ د قرآن پاك آیات, احادیث او عربي مقولې او د مشرانو خبرې په عربۍ ژبه کښې لیکلي دي".(13)

د دې نه علاوه د دې کتاب د پښتو نثر په برخه کښې د عربۍ ګڼ الفاظ او تراکیب استعمال شوي دي.

**د نثر نمونې** :

د ناستې د فرضو واجبو سنتو له ادا کولو پس له نمانځه راووزي په سلام وړومبۍ دِ ښي لوري وته وایي اسلام علیکم ورحمة الله د پس وکینږ رخ وته آدمیان.

هر کله الحمد او سورت په ورستي رکعت په وتر کښې اولولي. تر ود تکبیر وائي د هٔغه پس د اللهم انا د آخره پورې ولولي عیان.

په دې پیرا کښې د عربۍ 15 لفظونه 7 فقرې استعمال شوي دي.

"فرضو, واجبو, سنتو, سلام, اسلام, علیکم, ورحمة, الله, الحمد, سورت, وتر, تکبیر او نور. (14)

اخون درویزه بابا او د دوي پیروانو هم د پښتو نثر په ایجاد او وده کښې توده برخه اخستې ده او په نثر کښې ئې د عربۍ ژبې درانه استفاده کړې ده ـ د عربۍ داسې الفاظ او تراکیب ئې په پښتو نثر او نظم کښې استعمال کړي دي چې د پښتو د ادب د ورځینۍ ژبې مستقله برخه جوړه شوې ده۔

اخون درویزه بابا پخپله په پښتو نثر کښې ګڼ کتابونه لیکلي دي دې کښې مخزن الاسلام د نثر غوره کتاب دې چې د "خیرالبیان" په مقابله کښې لیکلی شوې وو۔ د پیر روښان د نظریاتو خلاف ئې د خپلو نظریو د صحیح ثابتولو کوشش کړې دې۔ دې کښې یې د عربۍ ډیر الفاظ او عباراتونه راوړلي دي۔ د محمد افضل رضا مطابق: درویزه بابا پخپل نثر کښې د عربۍ عبارت راوړلي دي۔ اول د عربۍ عبارت ولیکي او بیا ئې په پښتو کښې ترجمه وکړي

"د خپلي خبري د ثابتولو او تقویت ورکولو دپاره د ځائ مناسبت سره د عربۍ عبارت وړاندي کوي (بله دا چې) د دوئي په نثر کښې د عربۍ تراکیب هم راوړلي شوي دي"۔(15)

**د نثر نمونې** :

"بسم نام د الله خدائ دې: کار ساز د کل عالم دې د بندګانو رحمان مهربان خدائ دې, رزق روزي ورسوینه, مومن و کافرو جمله ؤځانوران, رحمان رحیم دواړه مشتیق له رحمته د رحمان معنٰي مي دوې, رحیم بسیاء بخشایده دې۔

دې عبارت کښې د عربۍ پنځلس ټکي راوړلي شوي دي۔ لکه:

الله, کل , عالم, رحمان, رزق, مؤمن , کافر, جمله, رحیم, مشتق, رحمة , معنٰي وغیره۔

" خدائ په هره ژبه بوله, عربي وي, که فارسي وي, که هندي وي که افغاني وي--- دَ اقوال د امامانو اوس اکثر عالم دا وائي چې قرآن په عربۍ دې په ناحق, فرض, واجب پښتو کوینه, دوئي په دا وینا نغریزي په پوهیړي دغه خوئي د جاهلانو"۔ (16)

په دې مختصر پیراګراف کښې یې لس د عربۍ ټکي د عربۍ تراکیبو سره راوړي دي لکه:

عربي, اقوال, امام, عالم, قرآن, حق, فرض, واجب, جاهل, اکثر۔

د بایزید انصاري او اخون درویزه بابا نه پس د دوئي پیرانو د پښتو نثر د عربۍ ژبې د الفاظو او تراکیبو په مرسته ډیر خدمت وکړلو او پښتو نثر ئې یو مقام ته ورسولو۔ دې کښې د ملا مست زمند, شیخ بستان, شیم قاسم, الله یار, کریم داد, اخون قاسم, باجو جان, حسین, جان محمد, او د نورو نومونه روښانه دي۔

**د پښتو د نثر دریم دور** :

د پښتو نثر دریم او زرین دور د خوشحال خان ختك نه شروع کیږي۔ بیا د خوشحال خان نه پس د دوئي د اولاد, همعصرو او پیروانو په واسطه مخ په وړاندې سلسلې درومې په دا دور کښې په پښتو نثر د عربۍ اثرات جاري ساتل کیږي او په نثر کښې ښکلا وسعت او دوه راځي۔

هسي خوشحال خان خټك ډير كتابونه ليكلي دي خو دلته يي د څو نامتو د پښتو د نثر كتابونه اخلو لكه:

دستارنامه, بياض, رنځيرى, خطونه او نور

خوشحال خان خټك د عربۍ استاذ ؤ ځكه د دوي په نثر د عربۍ ډير اثر وو. خاص په دستار نامه كښې يي د عربۍ ډير الفاظ او تراكيب استعمال كړي وو. لكه:

" چي تولد, تناسل, وداني د خلق هم په دا ده عظيم كار دى, زوره ور روزګار دى. حوام د عالم بقا ده مبني ادم تر قيامت پوري هم په دا معاشرت دى ښځي مزرعه د مردانو دي".

نسآ كم خرث الكم

**ترجمه**: ښځي ستاسو دپاره پټي دي.

د جهان وداني په دا زراعت ده. مخلوقات د حق تعالٰي ډير دي تر شرح تر بيان تير دي لكه آسمان , مزكه , غرونه, سيندونه, عرش, كرسي, فرشتې, جنتونه, حور, قصور انواع مخلوقات شك نشته چي په واړه كښې سړى بزرګ او شريف دې. شريف ترين د واړو مخلوقاتو سړى دى.

په دا پيرا كښې27 ټكي او يوه فقره د عربۍ استعمال شوي ده لكه:

" تولد, تناسل, خلق, عظيم, عالم , بقا, حوام, مبني, ادم, قيامت, معاشرت, مزرعه , مخلوقات , حق, تعالٰي, شرح, بيان ,آسمان, عرش, كرسي, جنتونه, حور, قصور, انواع, مخلوقات, شك وغيره".(17)

دغه رنګه د خوشحال خان خټك زامنو هم د پښتو نثر د عربۍ په رنګ و اهنګ كښې ليكلي دي چې نمونې يي دا دي.

"(1)عبدالقادر خان (1062ھ) د خوشحال خان شاعراو نثر نګار زوي ؤ په نثر كښې يي مشهور كتاب "ګلدسته" دى چې د شيخ سعدي له ګلستان څخه ئي په پښتو نثر ترجمه كړي دي".(18)

د نثر نمونه :

"شيخ سعدي وائي قدس الله سره العزيز چي يو سرهنګ زاده مي په وره كښې داغلم و سرائې وليده چي عقل او پوهه ئي زياته تر بيا نه وه. فراست او دانائي ئي تيره تر حده نخښې ئي د بزرګئۍ په تندي كښې پيدا وي او نور يې د هوښياري په مخ جلوګر".(19)

په دي پيرا كښې اووه د عربۍ ټكي دي.لكه:

" قدس, العزيز, عقل, زياته, فراست, حده "

افضل خان خټك تاريخ مرصع كښې يو پيرا داسي وړاندي كوي.

صوبیدار د کابل په نامه د سید امیر خان چي ملقب په عزالدولة وو ځوي د بهادر خان کو که وه نامزد شوه۔ سپهدار خان نهایت معجب، متکبر وه، بل لوئي قباحت دا وه ، چي ناواقف کار وه، تمیز د نیك و بد د دولت خواه ود نادولت خواه ورسره نه وه (عربي)

"حب الدنيا رآس كل خطيئة "۔ (20)

صدر خان د خوشحال خان ختټك شاعر زوي ۇ دوي مشهوري ملي قصی په پښتو کښي د نظم دي۔ یوه "دلی شهی، او بله آدم درخانی: په "آدم درخانی" کښي يي عنوانات په پښتو نثر کښي داسي ليکلي دي۔

"بلل د آدم خان چي درخانی په مصلحت د مور شباشب طلب کړه----

" آدم خان په طريق د ننواتي د مير بامي حاجي خيل كره وروسته۔ يو څو مدت يي په ښه حال په ښه وصال او اشتغال تير کړه"۔ (21)

په دا پيرا کښي يي اووه (۷) د عربی ټکي استعمال کړي دي لکه:

(مصلحت، طلب، طريق، مدت، حال ، وصال، اشتغال)

د خوشحال خان ختټك بل زوي ګوهر خان ختټك پخپل کتاب "قلب السير" کښي ليکي:

"محمد بن د اسحاق رحمة الله عليه وائي: ورځ د دوشنبه وه، يولسم د ربيع الاول وه چي سيد محمدؐ توليد شه، هم ۀغه کال اصحاب فيل قصد د مکي کړي وه ، حق تعالي دوئي هلاك کړل، دا واقعه زمونږ د پيغمبر له معجزاتو نه وه، ولي چي په برکت د ظهور د نور د پيغمبر صلي الله عليه وآله وسلم حق تعالي اهل مکه د دي له سر وساتل مکه يي په برکات د اقدام د ده محروسه او محفوظ کړه"۔(22)

په دا پيرا کښي ګوهر خان ختټك پنځه ويشت د عربی الفاظ سره د څو تراکيبو استعمال کړي دي لکه:

بن ، رحمة ، عليه، الاول، ربيع، سيد، تولد ، اصحاب، فيل، قصه ، معجزات، برکت، ظهور، نور، صلي، آله، سلم، حق، تعالي، اهل، اقدام، محروس، محفوظ۔

د خوشحال خان ختټك بل زوي کاظم خان شيدا د خپل ديوان په مقدمه کښي داسي نثر وړاندي کوي۔

"قيام د تدوين د مسودات اصلاً منظور نه ۇ۔ او اقدام و ترتيب نه د متفرقات نامحظور، او په سبب د علم التفات سائر مسودات کوت ثانيه په طريق د اصلاح و تدقيق، مطمسح د نظر عميق نه شول، ظاهر دي چي کمال د وضاحت په تلا حق د افکار دي او ازدياد ئي په تتابع د انظار"۔(23)

په دا پيرا کښي ټول الفاظ د عربی دي۔

په دي دور کښي يو بل د نثر ليکونکي محمد هوتك په 1084ھ کښي زيږيدلي وو- دوئي يو د پښتو کتاب "پټه خزانه" په کال 1144ھ کښي د هغه دور د بادشاه په وينا وليکله چي پکښي د پنځوس (۵۰) شاعرانو او اديبانو د شاعرۍ او ادبي معلومات راجمع کړل-

**د نثر نمونه**:

"د شاعر په مجمع کښي د فضلاء سرآمد دي, په ظرافت کښي هم , په اصل د بوستان دي, عبدالطيف له کچنيولي په علم شروع وکړه- قرآن شريف يي حفظ کړو او ځکه په طبع لطيف يي درلوده --- طبع يي شعر ته مائله ده , خو بيا هم قصې او حکايتونه نظم کا چي اوريدونکي عبرت ځني که او پند و نصيحت دي , په ظرافت کښي مفيد ورمونه کا, او هر کله مجلس د اشنايانو , په ظرافت د ده مسرور دي- کاتب الحروف کله کله دي ويني او اشعار يي اوري"-(24)

دي پيرا کښي شل د عربۍ الفاظ موجود دي لکه:

شاعر, محمع, فضلا, ظرافت, اصل, علم, شروع, حفظ, طبع, شعر, قصې(قصص) , حکايتونه, (حکايات) نظم, عبرت, نصيحت, مسرور, کاتب, الحروف, مجلس وغيره)

دغه رنگه د عربۍ ځيني تراکيب او جملې زمونږ د ثقافت برخه گرځيدلي ده- لکه

| | |
|---|---|
| السلام عليکم | وعليکم السلام |
| في امان الله | شکريه (شکراً) |
| الحمدالله | نغوذ بالله |
| استعفرالله | ولا (والله) |
| جزاء ك الله | مبارك شه (مبارك, مبروك) |
| منخوسه (منخوس) | ذليله (ذليل) |
| بخيله (بخيل) | فاسقه (فاسق) |
| ظالمه (ظالم او نور | |

غنيمت , حلال, حرام, حق, نصيحت (نصيحه) , ناصع, اجر, سلامت, حزيمت, صداقت, (صداقة) صدقه, جرم, مجرم, غم, زمانه (زمان) وقت (وخت) خدمت (خدمة) خادم, حفاظت, (حفاظة) احساس, خيال, فکر, مفکر, خطه, ثقافت, نقصان, منافع, تجارت (تجارة) وغيره-

هم دغه رنگه په دي دور کښي گڼ نثر نگارو , د پښتو نثر خدمت کړي دي چي د عربۍ ژبي رنگ , اهنگ , خوږوالي او کڼون په سبب ئي پښتو نثر ته وده ورکړي ده- دي کښي دا نومونه ځلانده دي:

پير محمد کاکړ, مسعود, نور محمد, يونس , مظفر, يار محمد, حاجي ابراهيم, امير محمد, محبت خان, الله يار, شمس الدين, مستجاب, قاسم او نور-

**د پښتو نثر څلور دور او په ځغي د عربۍ اثرات:**

د دي دور سرخیل مولوي احمد (1845ء- 1881ء) ګڼلي کیږي- "ګنج پښتو" یي د نثر مشهور کتاب دي- دي نه علاوه نور د پښتو ډیر نثر نګار راغلي دي چي د دویي په نثر د عربۍ اثرات شوي دي لکه: میراحمد شاه, رضواني, مراد علي, فراهي, دوست محمد , عین الله , قاضي عبدالقادر, سید احمد , امیر علي, محمد عمر, احمد جان, میا حسیب ګل او داسي نور ډیر-

که د دوئي ټولو نثر په غور سره ولولې نو د عربۍ ژبي واضح اثرات پري پراته دي- د عربۍ ګڼ الفاظ, تراکیب , فقرې, معقولې, احادیت, آیات او د ځغوي په پښتو ترجمې پکښي خوندي شوي دي- چي نن زمونږ د پښتو ژبې په روزمره ژوند کښي عام استعمالیږي ځکه چي د پښتو ژبي ځانګړي شوي دي او د پښتو د کلام په اظهار کښي یي صراحت , فراحت, وسعت, فصاحت , بلاغت او عذوبت پیدا کړي دي لکه: عزت, احترام, کمال, مرتبه, فرصت, واقعه, حادثه, قصه, عبادت, ثوات, غذاب, مشکل, مصیبت, قلم, کتاب, علم, استاذ, طالب, نقد, مال, بخل, بخیل, سخي, سخا ,(سخاوت) او داسې نور ډیر--

**پایله** :

معلومه شوه چي که د پښتو په نثر د شروع نه تر اوسه غور وکړي شي نو د عربۍ ژبي پري ژور اثرات موجود دي- داسي ډیر الفاظ , تراکیب, جملې, فقرې, معقولې او کلتوري مرکبات د عربۍ نه ورته راغلي دي چي نن د پښتو نثر او روزمره ژوند یوه مستقله برخه ګرځیدلي ده-- د عربۍ مقام او اهمیت زمونږ په چاپیرچل کښي په دیني او دنیاوي دواړو اړخونو کښي جوت دي- نو د داسي ژبي په پښتو اثرات د استفادې او اهمیت نه خالي نه دي- دغو اثراتو زمونږ د ادب په نظم او نثر دواړو کښې ډیر مهم کردار لوبولې دې- د شاعرۍ د هر اړخ پحقله اکثر د عربۍ ټکي په پښتو کښي استعمال شوي دي- شعر, شاعر, کلام نه تر د شاعرۍ ټولو محاسنو , صنعتونو وغیره , نومونه په پښتو کښي د عربۍ نه راغلي دي- پخپله ادب, ادیب, نثر, شاعري, ناثر, علم , ثقافت, کلام وغیره د عربۍ الفاظ دي- نو مونږ په آسانه وئیلي شو چي عربۍ ژبي ډیر پراخدلۍ او سخاوت سره پښتو ژبي ته ډیر څه ورکړي دي او پښتو ژبي ته ئي ښکلا او وسعت ورکړي او د دي د اصل شاباشی او د مبارکۍ حقدار او لائق زمونږ د پښتو لیکوال دي-

# حوالې


1. سورة الجحر:12/9

2. کنٹ، اولڈ پرشن، امریکہ 1935 ، ص:29(بحوالہ: د پښتو ادبیاتو تاریخ از عبدالحئ حبیبی)

3. ابن داؤد, محمد بن هوتك, پټه خزانه, د پوهني وزارت , دارالتاليف, قصه خواني بازار , پيښور ص: 59, طبع 1337,

4. حبيبي, عبدالحئ, د پښتو ادبياتو تاريخ, دويم ټوك, دانش خپرندويه ټولنه , پيښور, ص: 211 , 2005)

5. رضا , محمد افضل: د پښتو نثر تاريخ, يونيوسټي بك ايجنسي , پيښور, ص: 87 , 2010

6. ايضاً , ص:105 , 106

7. د پښتو ادبياتو تاريخ حبيبي, عبدالحئ: , پيښور,ص:,693 2005)

8. عبدالرحيم, مولوي, اماثرالامراء ج 2 , مطبع اردو گائيډ, كلكته ,ص:243 , 1188 وګورئي: (ميجرراورټي: پښتو ګرائمر, مقدمه

9. د پښتو نثر تاريخ د محمد افضل رضا , ص:150-151

10. ايضاً, ص:152-153

11. د پښتو ادبياتو تاريخ, د عبدالحئي حبيبي, ص: 706

12. د پښتو د نثر تاريخ , محمد افضل رضا, ص:144

13. انصاري, بايزيد : خيرالبيان, ترتيب و تدوين, حافظ محمد عبدالقدوس , پښتو ادبي ټولنه چمن بلوچستان, ص:262 1987

14. د پښتو د نثر تاريخ, محمد افضل رضار, ص:169 , 170

15. ايضاً, ص:172

16. خټك, خوشحال خان: دستار نامه, تحقيق د ډاكټر يار محمد , يونيورستي بك ايجنسي, پيښور,ص,87, 2005

17. رشيتن , صديق الله : د پښتو نثر هنداره, يونيوسټي بل ايجنسي , خيبر بازار , پيښور,ص: 104 , 105 , 1342ش

18. خټك, عبدالقادر خان: ګلدسته پښتو اكيډمي پيښور پوهنتون, پيښور ص:,89 1989

19. خټك, افضل خان, تاريخ مرصع, يونيورسټي بك پبليشر,ص:410 نيټه نه لري

20. د پښتو نثر هنداره, صديق الله رشتين, ص:112-

21. خټك, ګوهر خان, قلب السير, محقق, ډاكټر محمد زبير حسرت , پښتو اكيډمي بلوچستان كوئټه, ص:155 , 2016

22. شيدا, كاظم خان, ديوان كاظم خان شيدا, ترتيب و تدوين هميش خليل , اداره اشاعت سرحد پيښور, ص"3 , 1965

23. بن داؤد, محمد هوتك, پټه خزانه, قصه خواني بازار پيښور, 1339 , مقدمه

24. (پټه خزانه, ص:166)